UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

**د افغانی ملکي وګړو د وژنې شمیره د دې کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۳۱ سلنه زیاته شوې ده**

**د اګست ۱۰، ۲۰۱۰ کابل-** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتلو په اړه د دې کال په شپږ میاشتنی راپور کې نن ورځ وویل، چې د طالبانو او دولت ضد عناصرو د تاکتیکونو له امله د ملکي کسانو په تلفاتو کې د دې کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تیر کال د همدې مودې په پرتله په سلو کې ۳۱ زیاتوالی راغلی دی.

د ۲۰۰۹ په پرتله د طالبانو او دولت ضد عناصرو له خوا په وژل شویو یا ژوبل شویو کسانو کې ۵۵ سلنه ماشومان و او د شپږ سلنې څخه زیاتې ښځې وې. د حکومت پلوه ځواکونو له خوا اړول شوي تلفات په همدې موده کې ۳۰ په سلو کی کموالی ښيي، چې د هوايي بمباريو او بريدونو له امله په وژنو او ژوبلو کې ۶۴ سلنه کموالی څرګندوي.

د عمومي منشي ځانګړی استازی ستفان دی میستورا وويل: **"افغان ماشومان او ښځې په خاص ډول له دې جګړې څخه ډیر ځوریږي. دوی له بل هر وخت څخه ډیر په خپلو کورونو** کې وژل کیږي او ژوبلیږي."

د ۲۰۱۰ کال د جنوری له لومړۍ نیټې د جون تر ۳۰ ورځې پورې د یوناما د بشري حقونو څانګې ۳۲۶۸ د ملکی وګړو پیښی ثبت کړي دي، چې په دې کې ۱۲۷۱ وژنې او ۱۹۹۷ د ژوبلې پيښې شاملې دي. حکومت ضد عناصر د ۲۴۷۷ تلفاتو (د ټولو تلفاتو ۷۶ سلنه، د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۵۳ ٪ زیاتې) او حکومت پلوه ځواکونه د ۳۸۶ تلفاتو (د ټولو تلفاتو ۱۲ سلنه د ۲۰۰۹ په پرتله ۳۰ ٪ کموالی) مسوول ګڼل شوي دي .

د یوناما د بشري حقونو د څآنګې تحلیل دوه ډیر مهم پرمختګونه په ګوته کړي دي، چې د ۲۰۰۹ په پرتله د روان کال په شپږو لومړنیو میاشتو کې د ملکی کسانو ته په زیان کې د زیاتوالی سبب ګرځیدلي دي: حکومت ضد عناصرو په ټول هیواد کې زیات شمیر پرمختللی چاودیدونکي تعبیه شوې وسیلې کارولې دي او د دوي له خوا د ملکی کسانو د وژلو او اعدامولو په شمیر کې له ۹۵ ٪ څخه زیاتوالی راغلی دی ، چې له ۹۴ څخه ۱۸۳ ته لوړ شوي او په عام محضر کې د ماشومانو اعدامول هم په کې شامل دي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې، جورجیت ګنیان وویل: "د دغو پیښنو ویجاړونکې اغیزې څرګندوي، چې د جګړې څخه نهه کال وروسته تر بل هر وخت اوس هم د دې زیاته اړتیا لیدل کیږی چې د ملکی افغانانو د ساتنې او د جګړو له اغیزو څخه د بنسټیزو بشري حقونو د ساتنې لپاره باید اغیزناک تدابیر ونیول شي. ټولې ښکیلې خواوې باید ډیر څه وکړي چې ملکي وګړي خوندي وساتي او په دوي باندې د بریدونو نه کولو قانوني ژمنې وساتي."

د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د چاودیدونکو تعبیه شویو وسیلو او ځانمرګو بریدونو په وسیله په دې موده کې د ۲۹ سلنې څخه زیات ملکی کسان وژلي، چې ۷۴ یې ماشومان دي، دغه شمیره د تیر کال په همدې موده کې ۱۵۵ ٪ زیاتوالی څرګندوي.

د حکومت پلوه نړیوالو امنیتي ځواکونو له خوا هوایي بریدونه ډیر خطرناک دي، چې په همدې موده کې د ۲۲۳ ملکی وژنو له جملې څخه د ۶۹ پیښنو سبب ګرځیدلی (۳۱ ٪) او ۴۵ تنه ملکی افغانان یې ژوبل کړي دي. سره د دې هم د ۲۰۰۹ کال له همدې مودې سره په پرتله د هوایي بریدونو له امله د ملکی کسانو په وژنو کې ۶۴ سلنه کموالی راغلی دی. دغه کموالی

د ایساف د ۲۰۰۹ کال د جولای د تاکتیکي لارښوونو پایله ده چې د ملکی کسانو د وژنې په شمیر کې د کمولو په موخه د هوایي بریدونو لپاره صادرې شوې وې.

د سیمې په کچه ملکی تلفات د ۲۰۱۰ په لومړنیو شپږو میاشتو کې د افغانستان په سهیلي سیمو کې زیات شول. د نیمایي څخه زیاتې وژنې د هیواد په جنوبي سیمو کې شوې چیرته چې په ورته پیښو کې د سلو څخه زیات ملکی افغانان ووژل شول. په ټولیز ډول د جګړې سره اړوندې ملکی وژنې په جنوب کې د ۴۳ سلنې څخه پورته شوې. هغه ملکی وګړي چې وژل شوي په هغو کې ښوونکي، نرسان، ډاکټران، قومي مشران، د ټولنې مشران، ولایتي او د ولسوالیو چارواکي او په نورو ملکي وګړو کې ماشومان او هغه کسان شامل دي چې د نړیوالو ځواکونو او نړیوالو موسسو لپاره یې کار کولو.

د عمومي منشي ځانګړی استازی ستفان دی میستورا وویل: "د وژنو له زیاتوالی سره د ملکی افغانانو ترمنځ په پراخه کچه دا انګیرنه او احساس زیات شو چې هغوي هم د دې جګړې په زیاتره سره لومړنی هدف دی."

د ۲۰۱۰ د کال د نیمایي راپور په خپرولو سره یوناما د ۲۰۱۰ د جولای د ۷ نیټې د ملګرو ملتونو د سرمنشي په هغې اعلامیې یو ځل بیا ټینګار وکړ چې د هغې له مخې په افغانستان کې د نړیوال قانون رعایت د ټولو اړوندو خواوو لپاره د "یوې ستړې عمومي ننګونې" په توګه پاتې دی. بنسټیز بشري حقونه او د نړیوال بشردوستانه قانون هغه اصو ل چې د توپیر کولو، تناسب او احتیاط په اړه دي په جګړه کې د ښکیلو ټولو خواوو لپاره د تطبیق وړ دی او د هغوي څخه غواړي چې د ملکی وګړو د ژوند زیان او ټپي کیدنې راټیټې کړي چې هغه په د ې جدي او مهم پړاو کې یو ځل بیا تطبیق غواړي.

**د یوناما د بشري حقونو ځانګې وړاندیزونه چې په راپور کې دي په لاندې ډول دي:**

- طالبان باید ټول حکمونه او اعلامیې چې د ملکي وګړو د وژنې لپاره دي بیرته واخلي، او طالبان او نور د دولت ضد عناصر باید د تعبیه شوو چاودیدونکو وسایلو ځای پر ځای کول او ځانمرګي بریدونه پای ته ورسوي، د نړیوال بشردوستانه قانون رعایت وکړي، د ډارونې او وژنې عملونه چې په کې وژنې، اعدامونه او تښتونې شاملې دي ودروي او په بشپړ ډول د اتباعو د خوځښت د آزادۍ درناوي وکړي او د ملکی وګړو څخه د ډال په توګه کار اخیستل پای ته ورسوي؛

- نړیوال وسله وال ځواکونه باید خپل تحقیقات او راپورونه چې د ملکی تلفاتو په اړه دي چې په کې حساب ورکونه شامله ده لا زیات شفاف کړي، د هوایي بریدونو په اړه لارښودونه په پام کې ونیسي او تقویه یې کړي او د شپې له خوا بریدونه محدود کړي، د شپې د بریدونو لپاره متبادلې لارې ولټوي او یوازې هغه د وروستنې اقدام په توګه په سختو شرایطو کې وکاروي، د افغانستان د دولت سره د ملکی تلفاتو په اړه خپل تحقیقات او راپورونه همغږې کړي څو په دې توګه د ژغورنې او حساب ورکونې عمل ښه شي، د جبران کولو پروسه او د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې ملکي وګړو ته د هر ډول زیان په اړه شفافیت ښه والی ومومي؛

- د افغانستان حکومت باید یو داسې دولتي ارګان جوړ کړي چې د سترو ملکی تلفاتو د پیښو په وړاندې غبرګون وښایي او د نړیوالو ځواکونو او نورو کلیدی فعالینو سره متقابل اقدام وکړي، تحقیقات او تفتیش د عدلي طبي څېړنو په شمول باوري کړي، قربانیانو ته پر خپل وخت په شفافه توګه د تاوان د جبران چاره باوري کړی او دا چې وکړای شي د حساب ورکونې جریان چې په کې دسپلیني اقدام او عدلي تعقیب د هر امنیتی ځواک د ملي کارمند لپاره څوک چې په غیر قانوني ډول د ملکی وګړو د مړینې او ټپي کیدنې لامل وګرځي او یا هم په بل ډول د افغان اتباعو حقونه تر پښو لاندې کړي، موجود وي.